بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانســــــــتان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حج او اوقافو وزارت

د مســـاجدو او حُسَینیه ؤ د ارشاد او انسجام لوی ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایات

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۷/ رمضان المبارک /۱۴۴۶ هـ ، ق مطابق ۱۷ / حوت/۱۴۰۳هـ ، ش

# د واقعي روژه نیوونکو اخلاق او صفات

الحمد لله حمدًا كثيرًا طيّبًا مباركًا فيه كما يحبّ ربنا ويرضى، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمّدًا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه، وسلّم تسليمًا كثيرًا إلى يوم الدين.

قال الله سبحانه وتعالی:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ* أَيَّاماً مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْراً فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} البقرة: (۱۸۴)

**درنو حاضرینو او ګرانو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

روژه د غوره اخلاقو او نیکو صفاتو مدرسه ده چې انسان ته د صبر، تحمّل، انفاق فی سبیل الله، سخا، تقوی، خواخوږۍ او همکارۍ روزي او له قبیحو او ناکارو صفاتو او اخلاقو څخه یې راګرځوي.

ځیني خلک فکر کوي چې روژه یواځې د خوراک ، څښاک او کوروالي څخه ځان ساتل دي او نور چې هرڅه دی کول او ویل دا کوم باک نلري ؛ خو حقیقت داسې نه دی بلکې واقعي روژه د اخلاقو مدرسه ده چې انسان په غوره صفاتو روزي او له ټولو بدو او ناوړه اخلاقو څخه یې ژغوري . الله تعالی فرمایې چې روژه ددې لپاره مشروع شوی ده چې تاسې تقوی داره شئ. الله تعالی فرمایلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ}البقرة: (۱۸۳)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو!) فرض کړی شوې ده په تاسې باندې روژه؛ لکه چې فرض کړی شوې وه په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو (لکه پخواني امتونه او پیغمبران تر آدمه پورې).

**وجه د استدلال:** مفسرین د { لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} یوه معنا دا کوي چې روژه ددې لپاره مشروع شوی ده چې تاسې د جهنم له اور څخه وساتي او د جنهم له اور څخه هغه وخت انسان ساتل کیږي چې انسان خپله خوله ، لاسونه، سترګې ،پښې او نور اندامونه د ګناه له کارونو څخه وساتي. او مفسرینو د{ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} بله معنا داسې کړی ده چې روژه ددې لپاره مشروع شوی ده چې له تاسې متقیان جوړ کړي او هغه داسې چې ستاسې په خوله ، لاسونو ، سترګو او نور اندامونو باندې ټول حرام شیان د رمضان په میاشت کې په خصوصي ډول بندوي؛ ترڅو تاسې متقیان وګرځي؛ ځکه روژه حیواني نفس او د هغه شهوت ماتوي او د نفس شرارت له منځه وړي. النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (١ /٢٣٧)، التحرير والتنوير(٢ /١٥٨)

بناءً په روژه کې باید د انسان خوله له هر ډول فضول خبرو، درواغو او هر هغه څه نه ساتل دي چې په شریعت کې ورڅخه منع راغلی ده .په روژه کې انسان یواځې د خوراک، څښاک او کوروالي څخه روژه نه وي بلکې په روژه کې باید دانسان خوله هم روژوه وي، د مسلمان ژبه هم روژه وي او د مسلمان سترګې هم روژه وي او د مسلمان زړه هم روژه وي او دمسلمان پښې هم روژه .

## ۱-د واقعې روژه نیوونکي صفت دادی چې د هغه زړه باید هم روژه وي:

واقعي روژه نیوونکي هغه کسان دي چې روژه په اخلاص او یواځې د الله تعالی د رضا لپاره نیسي او په رمضان المبارک میاشت کې باید د مسلمان زړه د ټولو حرامو او بدو ارادو څخه روژه وي لکه ریاء، شهواني او شهوتي ارادې ، د ګناه کولو اراده. مسلمان په زړه کې روژه نیول دالله تعالی رضا حاصلولو او د جهنم له اور څخه د ځان خلاصولو په نیت وي او د ریاء او سمعت له ارادو څخه ځان وساتي او روژه نیول یې یواځې د الله تعالی د رضا په خاطر وي. الله تعالی فرمايي چې څوک د الله تعالی عبادت کوي ، نو مخلوق دې په کې نه شریکوي (یعنې له ریاء کارۍ څخه دې ځان وساتي) الله تعالی فرمایلي دي:{ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا } الكهف: (١١٠)

ترجمه: پس هر څوک چې وي چې امید لري د (اخروي) ملاقات د رب خپل (په ښه وجه سره)؛ نو ښايي چې (تل) عمل وکړي عمل صالح، او نه دې شریکوي په عبادت د رب خپل کې هیڅوک.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ:جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ أَرَأَيْتَ رَجُلاً غَزَا يَلْتَمِسُ الأَجْرَ وَالذِّكْرَ مَا لَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم:« لاَ شَىْءَ لَهُ» فَأَعَادَهَا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ يَقُولُ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم :«لاَ شَىْءَ لَهُ» ثُمَّ قَالَ:« إِنَّ اللَّهَ لاَ يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلاَّ مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا وَابْتُغِىَ بِهِ وَجْهُهُ». سنن النسائي الكبرى(٣ /١٨)

ژباړه: دابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دی هغه فرمايي چې یو سړی نبي علیه السلام ته راغی او ورته یې وویل: ما خبر کړه که چیرې یو سړی غزا (جهاد) وکړي او اجر او د ځان ښودنه غواړي څه دي هغه لره (ددې دواړوڅخه)؟ نبي علیه السلام وفرمایل: هیڅ شی هغه لره نشته(یعنې هیڅ اجر ورلره نشته) بیا هغه سړي (دا خبره) درې ځله تکرار کړه.نبي علیه السلام به ورته ویل: هیڅ شی ورلره نشته. بیا نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه الله تعالی نه قبلوي د عمل څخه مګر چې د هغه لپاره خالص وي او په هغه (عمل) سره د الله تعالی رضا ولټوي.

امام بیضاوي رح د واقعي روژې په اړه وايي:( لَيْسَ الْمَقْصُود مِنْ شَرْعِيَّةِ الصَّوْمِ نَفْس الْجُوعِ وَالْعَطَشِ ، بَلْ مَا يَتْبَعُهُ مِنْ كَسْرِ الشَّهَوَاتِ وَتَطْوِيعِ النَّفْسِ الْأَمَّارَةِ لِلنَّفْسِ الْمُطْمَئِنَّةِ ، فَإِذَا لَمْ يَحْصُلْ ذَلِكَ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِ نَظَرَ الْقَبُولِ) فتح الباري لابن حجر (٦ /١٤٢)

ژباړه: امام بيضاوي رح وايي چې د روژې د مشروع والي څخه مقصود يواځې ولږه او تنده نه ده، بلکې د دې ترڅنګ د شهوتونو ماتول، او د نفس اماره تابع کول دي نفس مطمئنه ته،که چيرې دا مقصد حاصل نشي ، نو الله تعالی ورته د قبولتيا په سترګه نه ګوري.
امام غزالي رحمه الله وايې چې روژه په درې ډوله ده: (اعلم أَنَّ الصَّوْمَ ثَلَاثُ دَرَجَاتٍ صَوْمُ الْعُمُومِ وصوم الخصوص وصوم خصوص الخصوص، وأما صَوْمُ الْعُمُومِ : فَهُوَ كَفُّ الْبَطْنِ وَالْفَرْجِ عَنْ قضاء الشهوة ، وَأَمَّا صَوْمُ الْخُصُوصِ : فَهُوَ كَفُّ السَّمْعِ وَالْبَصَرِ وَاللِّسَانِ ، وَالْيَدِ وَالرِّجْلِ وَسَائِرِ الْجَوَارِحِ، عَنِ الْآثَامِ. وأما صوم خصوص الخصوص : فصوم القلب عن الهمم الدَّنِيَّةِ ، وَالْأَفْكَارِ الدُّنْيَوِيَّةِ ، وَكَفُّهُ عَمَّا سِوَى اللَّهِ عز وجل بالكلية). إحياء علوم الدين (١/ ٢٣٤).

ژباړه: پوه شه چې روژه درې قسمه ده، يوه روژه د عوامو خلکو، بله روژه د خاصو خلکو او بله روژه خاص الخاصو خلکو. روژه د عوامو خلکو هغه بندول د خيټې او فرج دي د شهوت د پوره کولو څخه. او کومه چې روژه د خاصو خلکوده ، نو هغه بندول د غوږونو دې، د سترګو دي ، د لاسونو دي ، د پښو دي او د ټولو اندامونو دي د ګناهونو څخه.

او هغه چې روژه د خاص الخاصو خلکو ده ، نو هغه روژه د زړه ده د بيکاره ارادو څخه او ددنيوي فکرونو څخه او بندول د زړه دي ما سوا دالله جل جلاله نه د هرڅه نه په کلي ډول .

د امام غزالي رحمه الله د وينا مطلب دادی چې د عوامو روژه هم روژه ده ، خو واقعي روژه نه ده چې يواځې د خوراک ،څښاک او کوروالي څخه ځان بندول دي، بلکې واقعي او کامله روژه هغه ده چې د زړه په شمول ټول اندامونه د حرامو، ناجائزو او ناوړه کارونو او خصلتونو څخه ژغورل دي.

## ۲-د واقعي روژه نيوونکي صفت دادی چې د هغه ژبه بايد هم روژه وي.

واقعي روژه نيوونکي هغه دي چې خپله ژبه هم له ناروا، باطلو او عبثو ويناوو څخه بنده کړي لکه غيبت، فحش وينا، لعنت ويل، پوچې خبرې کول، درواغ او بهتان ويل، ټوکې او مسخرې کول.ځينې خلک ليدل کيږي چې په روژه کې کار او کسب نه کوي او يواځې عبث مجلسونه کوي، يو پر بل باندې ټوکې او مسخرې کوي او په باطلو کې ننوتي وي او يا به د نورو غيبت کوي او يا به ټوله ورځ د خلکو د مالونو حسابونه کوي . که پوښتنه ورڅخه وکړي درته په ځواب کې وايي : په دې کار سره روژه لنډوو-ولاحول ولاقوة الا بالله-ځينې نور بيا چې په کسب کې مشغوله وي په خرڅولو او اخيستلو کې درواغ وايي ، په ناحقه قسمونه خوري ،يا د معاملاتو پر وخت په ډيرو وړو وړو خبرو جنګونه کوي اويو بل ته کنځل کوي چې دا هر څه د روژې اجر کموي او د روژې حقيقت بدلوي.
په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ». صحيح البخاري ت (٤ /٥٧٨)
ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې پرې نږدي وينا ددرواغو او په درواغو عمل کول(پرې نږدي) ، نشته الله تعالی ته ددې حاجت چې پريږدي خپل خوراک او څښاک.
په يو بل حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« رُبَّ صَائِمٍ حَظُّهُ مِنْ صِيَامِهِ الْجُوعُ وَالْعَطَشُ». مسند أحمد (١٤ /٤٤٥)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ډير روژه نيوونکی (شته) چې د هغه برخه له خپلې روژې څخه يواځې ولږه او تنده وي.

يعنې داسې روژه نيوونکي زيات دي چې واقعې روژه نه نيسي او په حرامو ، عبثو او باطلو کې مشغوله وي او د روژې اجر په خپلو لاسونو له منځه وړي او يواځې ولږه او تنده يې په برخه شي.

امام ابن رجب رحمه الله وايي: په دې حديث کې راز دادی چې الله تعالى ته قُرب او نزديکت په ترک د مباحاتو تر هغې نه تکميلېږي ترڅو چې محرمات پرې نږدې، نو څوک چې د محرماتو مرتکب کيږي او بيا ترک د مباحاتو کوي ددې داسې مثال دی لکه څوک چې فرض لمونځ پريږدي او الله تعالى ته نزديکت په نوافلو سره لټوي.لطائف المعارف (ص: ١٦٨)

رسول الله صلى الله عليه وسلم په روژه کې د گناه له خبرو او د جهالت له خبرو او کړنو څخه منع کړی ده.

واقعي روژه نيوونکی بايد د صبر، تحمل او د قهر زغمونکي وي او که چيرې له جاهلانو سره مخ شي ، نو د عذر په ډول دې ورته ووايې چې زه روژه يم. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:« الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ وَإِنْ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ». صحيح البخاري (٤ /٥٦٣)

ژباړه: ابوهريره رضي الله عنه وايې چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: روژه ډال دی، (څوک چې روژه ونيسي) نو فحش وينا دې نه کوي او د جاهلانو په شان عمل دې نه کوي. که چيرې کوم سړي ورسره جنگ کولو او يا يې ورته کنځلې وکړې، نو وه دې وايې( هغه ته په جواب کې يا په زړه کې) چې زه روژه يم دوه ځله دې دا ووايې.

د (فلا يرفث ولا يجهل) معنا داده چې د جاهلانو او بې عقلانو په شـــان دې ناکاره او پوچې خبرې، ويناوې او کارونه نه کوي. شرح الکرماني على صحيح البخاري(٩ /٧٨)

په يو حديث شريف کې نبي عليه السلام واقعي او حقيقي روژه داسې تعريف کړی ده: عنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :« لَيْسَ الصِّيَامُ مِنَ الأَكْلِ وَالشَّرْبِ فَقَطْ. إِنَّمَا الصِّيَامُ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ». السنن الکبرى للبيهقي. ط المعارف بالهند (٤ /٢٧٠)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: روژه يواځې د خوړلو او څښلو څخه دځان بندول نه دي . بيشکه (واقعي ) روژه د لغوه او حرامو او مکروه خبرو څخه ده.

په يو بل حديث کې راځي:عَنْ عُبَيْدٍ، مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا صَائِمَتَيْنِ، فَكَانَتَا تَغْتَابَانِ النَّاسَ، فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ، فَقَالَ لَهُمَا: «قِيئَا»، فَقَاءَتَا قَيْحًا وَدَمًا وَلَحْمًا عَبِيطًا، ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ هَاتَيْنِ صَامَتَا، عَنِ الْحَلَالِ وَأَفْطَرَتَا عَلَى الْحَرَامِ» رواه احمد (٣٩ /٦٠) ورواه الموصلي في مسنده (٣ /١٤٧) واللفظ له.

ژباړه: د حضرت عبيد د رسول الله صلى الله عليه وسلم آزاد شوي غلام څخه روايت دی ، هغه وايې بيشکه دوه ښځې وې چې روژه به وې او دواړو به د خلکو غيبت کولو، نبي عليه السلام يو لوښی (ظرف) راوغوښتلو او هغو دواړو ته يې وويل: دواړه قئ وکړئ (په دې لوښي کې) نو دواړو قيئ وکړ او وينې او زوې او غوښه تازه. بيا نبي عليه السلام وفرمايل: دوی دواړو به روژه ونيوله د حلالو څخه او ماتوله به يې په حرامو. د احمد په روايت کې راځي: «صـامتا عما أحل لله ، وأفطرتا على ما حرم الله عليهما ، أتت إحداهما الأخرى فلم يزالا يأكلان لحوم الناس حتى امتلأت أجوافهما قيحًا». مسند أحمد (٣٩ /٦٠)

ژباړه: دواړو به روژه شوی د هغه څه نه چې الله تعالى حلال کړي دي او روژه به ماتوله په هغه څه چې الله تعالى په دوی حرام کړي ؤ ، يوه به د بلې خوا ته راغله او ترهغې به د خلکو غوښې خوړلی ترڅو چې ددواړو گيډې به د وينو او زوو څخه ډکې شوی.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي: ( ليس الصيام من الطعام والشراب وحده، ولكنه من الكذب، والباطل، واللغو، والحلف ). ابن أبي شيبة في مصنفه رقم الحديث: (۸۸۸۲)

ژباړه: روژه يواځې د خوراک او څښاک څخه نه ده، بلکې روژه له درواغو، باطلو، لغوه (خبرو او کارونو) او قسمونو څخه هم ده.

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي: :( إذا صمت فليصم سمعك وبصرك ولسانك عن الكذب والمحارم ودع أذى الجار، وليكن عليك وقار وسكينة يوم صومك ، ولا تجعل يوم صومك ويوم فطرك سواء). لطائف المعارف (ص: ۱٦۸)

ژباړه: کله چې دې روژه ونيوله ، نو بايد روژه شي غوږونه ستا، سترګې ستا، ژبه ستا له درواغو او محرماتو څخه او ګاونډي ته ضرر رسول پريږده، بلکې تاته وقار او سکون په کار دی د روژې په ورځ او مه ګرځوه ورځ د روژې او ورځ د کوجې يوشان.

امام نووي رحمه الله ليکلي دي: روژه نيوونکي ته په کار دي چې د خپلې روژې حفاظت وکړي له غيبت او کنځلو څخه نسبت نورو خلکو ته. او د پورتنيو داحاديثو څخه مراد دادی چې د روژې کمال او مطلوبه فضيلت د روژې ساتل دي د لغو او بدو خبرو څخه. المجموع( ٦ / ۳۹۸)

## ۳- د واقعي روژه نيوونکي صفت او اخلاق به دادي چې د هغه سترګې بايد هم روژه وي.

واقعي روژه نيوونکي هغه کسان دي چې د خولې د روژې ترڅنګ خپلې سترګې هم روژه کړي د هغه څه نه چې الله تعالی ورته کتل حرام کړي دي. د سترګو روژه خو په هر وخت کې وي خو په رمضـان المبارک کې دا حکم نور هم قوت مومي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:{قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ} النور:(۳۱)

ترجمه: ووايه (ای محمده !) مؤمنانو ته چې پټې کړي دوی سترګې خپلې (له نا محرمو څخه) او ښـه ټينګ دې وساتي دوی فرجونه سترونه خپل ( د محرماتو په مقابل کې) دغه (اغماض او حفظ) ډېر پاکيزه (او ګټور) دی دوی ته ، بېشکه چې الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې کوي يې (دوی، نو ښايي چې ترې په وېره اوسي، پر هر حرکت او په سکون خپل). او ووايه( ای محمده) ايماندارو ښځو ته چې پټې دې کړي له (نامحرمو ښځو څخه) سترګې خپلې، او ښه ټينګ دې وساتي فرجونه سترونه خپل (د محرماتو په مقابل کې)

په حديث شريف کې نبي عليه السلام خپل صحابي ته وفرمايل: چې د ناڅاپي نظر لګيدلو پروخت هم خپلې سترګې بل مخ ته واړوه. عَنْ جَرِيرٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ نَظْرَةِ الْفَجْأَةِ فَقَالَ « اصْرِفْ بَصَرَكَ ». سنن أبى داود-ن(۲ /۲۱۱)

ژباړه: د جرير رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د ناڅاپي نظر لګيدلو په اړه پوښتنه وکړه. هغه راته وفرمايل: خپلې سترګې بل پلو ته واړوه.

واقعي روژه نيوونکي هغه کسان دي چې د خولی د بندولو ترڅنګ خپلې سترګې هم حرامو ته له کتلو څخه را بندې کړي.

ځينې خلک خصوصا ځوانان به په تلويزونونوکې، په فيسبوک او نورو ټولنيزو رسنيو کې ټوله ورځ مصروف وي اود زنانانه و لوڅو عکسونو او فلمونو به کتو کې به مشغوله وي او ددې فکر به ورسره نه وي چې دا کار زما روژې ته څومره تاوان رسولی شي.

سترګې زړه ته منفذونه دي او د روح دروازې دي، کله چې سترګې ووتلی ، نو زړه يې برباد کړ، او ځينې سترګې زناکاره وي چې د سترګو زنا حرامو ته کتل دي. او د سترګو نظرد شيطان مسموم شوي غشي دي.

علامه شاه کرماني رحمه الله فرمايي: چاچې سترګې ښکته وساتلې له حرامو څخه او خپل باطن يې په تقوی آباد کړ او خپل ظاهر يې د سنتو په اتباع باندې آباد کړ، دده فراست به هيڅکله خطا نشي.

حرامو ته کتل انسان حرامو ته را کاږي او بنده په غفلت کې اچوي او انسان په نفسياتي خواهشاتو کې واقع کوي او د ايمان نور وژني او د زړه څخه بصيرت پورته کوي او په زړه کې شيطان ځای نيسي چې بيايې ګناهونو ته راکاږي.

## ۴-د واقعي روژه نيوونکو له صفاتو داهم ده چې بايد خپل غوږونه هم روژه کړي.

واقعي روژه نيوونکي هغه کسان دي چې خپل غوږونه له حرامو اوريدلو هم روژه کړي لکه سندرې اوريدل ، فحش او سپکې ويناوې اوريدل، درواغ اوريدل، باجې او سروناګانې اوريدل.

ددې ټولو شيانو اوريدل او غوږ ورته ايښودل خو پرته له روژې هم حرام دي، ولې په روژه کې يې حکم نور هم غليظ کيږي او د روژې فضيلت او ثواب کموي. الله تعالی درواغو ته غوږ کيښودل د منافقانو صفت بللی دی او فرمايلي يې دي:{سماعون للكذب أكالون للسحت}المائدة: (٦٣)

د انسان د اندامونو د اعمالو په باره کې به الله تعالی د قيامت په ورځ پوښتنه کوي. الله تعالی فرمايلي دي: {إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً }الإسراء:(٣٦)

ترجمه: بېشکه غوږ او سترګه او زړه هر يو له دغو (درې واړو) دي له هغه څخه پوښتنه کړی شوي( په قيامت کې چې تا په دنيا کې ولې ګناه کوله؟).

**داستدلال وجه:** ددې آيت په معنا کې مفسرينو دوه ډوله توجيهات ذکر کړي دي: يوداچې د انسان څخه به الله تعالی د دغو اعضاؤ په باره کې پوښتنه وکړي چې دوی ښه کړي دي او که بد. دوهم : داچې الله تعالی به ددغو اعضاوو څخه پوښتنه وکړي او په انسان به شاهدان وګرځوي او دوی به د انسان لپاره يا په انسان باندې ګواهي ورکړي چې مونږ کوم کوم عملونه کړي دي. النکت والعيون للماوردي(٣ /٢٤٣)

واقعي روژه نيوونکو باندې لازم دي چې کله لغوه کلام، آواز واوري، له هغې څخه مخ واړوي او که په توان کې يې وه هغه بند کړي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:{وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلامٌ عَلَيْكُمْ لا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ}القصص: (٥٥) ترجمه: او کله چې واوري دوی کومه چټي (بېکاره) خبره ؛ نو څنګ کوي دوی له هغې نه،او وايي (هغوی چټي بيکاره ويونکيو ته): دي مونږ ته عملونه ځمونږ (له حلم او صبر)،او دي تاسې ته عملونه ستاسې (له حماقته او بد ويلو)، سلام دی پر تاسې(له طرفه ځمونږ له کنځلو او طعنو) نه غواړو مونږ (مجلس او طريقه) د جاهلانو.

**داستدلال وجه:-** (اللغو) هر باطل، مذموم او بې فائدې خبرې ته ويل کيږي،که هغه وينا وي او که فعل.

- (اللغو) کلمه په قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې ذکر شوی ده او په هرځای کې ورڅخه مختلفې معناګانې مراددي. أحكام القرآن لابن العربي (٦ /١٧٥) واحكام القرآن للجصاص

عبدالله بن عمر رضي الله عنه به شپيلی وهل هم په لغوه کې حسابوله. په یو حدیث شریف کې راځي:عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ سَمِعَ صَوْتَ زَمَّارَةِ رَاعٍ فَوَضَعَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ وَعَدَلَ رَاحِلَتَهُ عَنْ الطَّرِيقِ وَهُوَ يَقُولُ يَا نَافِعُ أَتَسْمَعُ فَأَقُولُ نَعَمْ فَيَمْضِي حَتَّى قُلْتُ لَا فَوَضَعَ يَدَيْهِ وَأَعَادَ رَاحِلَتَهُ إِلَى الطَّرِيقِ وَقَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعَ صَوْتَ زَمَّارَةِ رَاعٍ فَصَنَعَ مِثْلَ هَذَا» مسند أحمد (٨ / ١٣٢)

ژباړه: د حضرت نافع د عبدالله بن عمر رضي الله عنه د غلام څخه روایت دی ، هغه وایې چې یوځل عبدالله بن عمر رضي الله عنه د شپونکي د شپیلۍ آواز واوریده، نو خپلې د لاسونو ګوتې یې په خپلو غوږونو کې دننه کړلې او خپله سپرلۍ یې د هغې لارې څخه چپه کړه او هغه به ویل : ای نافع آیا ته د شپیلۍ آواز اورئ؟ ما به ورته ویل : بلی! نو مخکې به تللو تر هغې پورې چې ما ورته وویل: نه ! اوس د شپیلی آواز نه اورم.نوبیایې خپل لاسونه ښکته کړل او خپله سپرلۍ یې لارې ته راګرځوله او راته یې  وویل: ما نبي علیه السلام لیدلی دی چې هغه د شپونکي د شپیلۍ آواز واوریدلو ، نو داسې کار یې وکړ لکه ما چې وکړ.

یوځل عمر بن عتبه رحمه الله خپل غلام د یو سړي سره ولیده چې د بل سړي غیبت یې کولو، نو عمر بن عتبه خپل غلام ته  وویل: (ویلك نزه سمعك عن استماع الخنا كما تنزه نفسك عن القول به، فالمستمع شريك القائل) مختصر منهاج القاصدين للمقدسي (٣ /٣٠)

ژباړه: هلاک شـئ! پاک کړه غوږونه خپل د اوریدلو دفحش خبرو څخه لکه څرنګه چې پاکوی ځان خپل د فحش وینا د کولو څخه ، اوریدونکی د فحش خبرو د ویونکی سره شریک دی ( په ګناه کې).

## ۵-د واقعي روژه نیوونکي د اخلاقو څخه دا هم دي چې باید خپله خیټه هم روژه کړي .

د خیټې روژه کول دادي چې په روژه کې د سود خوړلو، د یتیم مال له خوړلو، د قمار د پیسو د خوړلو، د غلا شوي مال له خوړلو، د رشوت د خوړلو، د غصب شـوي مال له خوړلو او ددوکې له لارې ګټل شوي مال له خوړلو، په قسمونو باندې د خرڅ شوي جنس له خوړلو... څخه خپله خیټه وساتي او هر څه په کې پرته له تمیزه وانه اچوي.

واقعي روژه نیوونکی باید په حلال خوراک او څښاک باندې روژه ماتی او افطار وکړي.

امام غزالي رحمه الله وايې: دا روژه هیڅ معنا نلري چې ځان د حلال طعام څخه بند کړی او بیا افطار په حرامو وکړی. ددې داسې مثال دی لکه څوک چې قصر بنا کوي خو ښار ویجاړوي.  إحياء علوم الدين (١ /٢٣٥)

واقعي روژه نیوونکی باید له الله تعالی څخه حقه حیاء وکړي او خپل خوراک او څښاک ته دې متوجه شي. په حدیث شریف کې راځي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَحْيُوا مِنْ اللَّهِ حَقَّ الْحَيَاءِ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَسْتَحْيِي وَالْحَمْدُ لِلَّهِ قَالَ لَيْسَ ذَاكَ وَلَكِنَّ الِاسْتِحْيَاءَ مِنْ اللَّهِ حَقَّ الْحَيَاءِ أَنْ تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى وَالْبَطْنَ وَمَا حَوَى ». سنن الترمذي (٤ /٦٣٧)

ژباړه: عبدالله بن مسعود رضي الله وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله تعالی څخه په حقه حیاء وکړئ. راوي وايي چې صحابه کرامو وویل: ای د الله رسوله! مونږ له الله تعالی څخه حیاء کوو الحمد لله. نبي علیه السلام وفرمایل: دا حیاء نه ده؛ د الله تعالی څخه حقه حیاء داده چې ته د خپل سر حفاظت وکړي او د هغه څه حفاظت وکړې چې راجمع کړي دي سر (لکه سترگې ، غوږونه،ژبه، او خوله)او داچې ته حفاظت وکړې د خیټې او هغه چې ملگري دي د خیټې سره( فرج ) .یعنې دا ټول په حرامو داستعمال څخه وساتل شي.

روي عن يوسف بن أسباط رحمه الله قال : إن الشاب إذا تعبد قال الشيطان لأعوانه : انظروا من أين مطعمه؟ فإن كان مطعم سوء قال : دعوه يتعب و يجتهد فقد كفاكم نفسه إن إجهاده مع أكل الحرام لا ينفعه له). الكبائر للذهبي (ص: ۱۱۸)

ژباړه: د یوسف بن اسباط رحمه الله څخه روایت دی هغه وايي چې کله چې ځوان عبادت کوي ، شیطان خپلو ملگرو ته وایې: وگورئ چې خوراک یې له کوم ځای څخه دی؟ که چیرې خوراک یې بد ؤ(یعنې حرام ؤ) بیا شیطان وایې: پریږدئ چې ځان ستړی کړي او کوښښ وکړي، بیشکه تاسو لره کافي دی د هغه نفس، بیشکه ځان ستړی کول د هغه سره د حرامو د خوړلو گټه نه رسوي هغه ته.

## ٦-د واقعي روژه نیوونکي صفت دادی چې باید خپل لاسونه هم روژه کړي.

د لاسونو د روژې څخه زمونږ مراد دادی چې په لاس باندې حرام کارونه ونه کړي لکه غلا، غصب، په لاس سره خلک وهل او ټکول او وژل او رشوت اخیستل، په خرڅولو کې د مبیعې د عیب پټول، احتکار کول او داسې نور گناهونه.

واقعي روژه نیوونکی باید په لاسونو باندې ناروا او حرام کار انجام نه کړي، بلکې لاسونه تل په نیکو کارونو کې مصروف وساتي.

په یو روایت کې راځي چې طُفیل بن عامر بن حارث خزاعي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل:(فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَعَلِّي لَا أَلْقَاكَ، فَزَوِّدْنِي شَيْئًا أَعِيشُ بِهِ قَالَ: «أَتَمْلِكُ لِسَانَكَ؟» قَالَ: فَمَاذَا أَمْلِكُ إِذَا لَمْ أَمْلِكْ لِسَانِي؟ قَالَ: «أَتَمْلِكُ يَدَكَ؟» قَالَ: فَمَاذَا أَمْلِكُ إِذَا لَمْ أَمْلِكْ يَدَيَّ؟ قَالَ: «فَلَا تَقُلْ بِلِسَانِكَ إِلَّا مَعْرُوفًا، وَلَا تَبْسُطْ يَدَكَ إِلَّا إِلَى خَيْرٍ» المعجم الكبير للطبراني (۸ /۲۲۸)

ژباړه: طُفیل بن عامر بن حارث خزاعي وویل: یارسول الله صلی الله علیه وسلم! شاید زه بیا له تاسره ملاقي نشم، ماته یو څه زیات راکړه چې زه په هغې ژوند وکړم. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: آیا ته د ژبې مالک یې؟ هغه وویل: نور به په څه مالک یم چې د ژبې مالک نه اوسم. نبي علیه السلام ورته وویل: آیا ته په لاسونو تسلط لرې؟ هغه وویل: بل به په څه تسلط ولرم چې په خپلو لاسونو تسلط ونلرم. بیا نبي علیه السلام ورته وفرمایل: نو په ژبه مه وایه مگر نیکي او مه اوږدوه لاسونه مگر خیر (کار) ته.

## ۷-د واقعې روژه نیوونکي بل صفت دادی چې باید خپلې پښې هم روژه کړي.

د پښو د روژو څخه مقصد دادی چې څوک واقعې روژه ونیسي، نو باید پښې حرام کار او د حرامو د گټلو څخه بندې کړي او په پښو باندې حرامو ته تلل ونکړي.

دا شرعي حقیقت دی چې کوم قدمونه مونږ اخلو که هغه د شر په لار کې دي او که د خیر په لار کې دي ، دا لیکل کیږي او په آخرت کې به پر مونږ باندې یا زمونږ لپاره گواهي وایې.

بناءً پښې باید د هغو اعمالو او کارونو څخه وساتو چې په آخرت کې پښې پر مونږ د بدو شاهدي وايي. الله تعالی فرمایلی دي چې د آخرت په ورځ به دانسان ژبه او لاسونه او پښې پر انسان شاهدي وايي.بیا به د انسان ژبه بنده کړل شي او د هغه لاسونه او پښې به پر انسان شاهدي وايې. الله تعالی فرمايلي دي:( يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)النور: (۲۴)

ترجمه:په هغه ورځ کې چې شاهدي به ورکړي پر دوی باندې ژبې د دوی ، او لاسونه د دوی، او پښې د دوی پر هغو(افعالو او اقوالو) چې وو دوی چې کول به يې په دنيا کې.

کله چې په ژبه مهر ولګيږي ،نو لاسونه او پښې به شاهدي وايي:(الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ) يس: (٦٥)

ترجمه: نن ورځ به مهر ووهو پر خولو د دوی، او خبرې به وکړي له مونږ سره لاسونه د دوی، او شاهدي به ورکړي پښې د دوی په هغو کارونو چې وو دوی چې کول به دوی (په دنيا کې).

ددې څخه علاوه ځمکه به هم پر مونږ یا زمونږ لپاره شاهدي وايي.په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا} [الزلزلة: ٤] قَالَ: «أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا»؟ قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: « فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا أَنْ تَقُولَ: عَمِلَ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا »، قَالَ: «فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا».سنن الترمذي ت شاكر(٤ / ٦١٩)، مسند أحمد ط الرسالة (١٤ /٤٥٦)

ژباړه: دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت مبارک ولوستلو: {يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا} په دغه ورځ به (ځمکه) بيانوي خپل خبرونه.

نبي عليه السلام وفرمايل: آيا تاسو پوهيږئ چې څرنګه به وي د ځمکې دخبرونو بيانول؟ صحابه وويل: الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم ډير ښه پوهيږي.بيا نبي عليه السلام وفرمايل: د ځمکې خبرونه دادي چې ځمکه به شاهدي ووايې په هر بنده سړي باندې او ښځې باندې د هغه څه په اړه چې ده کړي دي د ځمکې په شا باندې داسې به ووايې: دا کار يې کړی دی، په فلانۍ ورځ کې يې دا دا کار کړی دی. نو دا د ځمکې خبرونه دي.

**تقبل الله منا ومنكم صالح الأعمال**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**